مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنګروال

۲۰۲۱/۱۲/۲۹

# د اعلیحضرت امان الله بنېګڼې او تېروتنې

### لومړی د يوې سرېزې په پلمه:

دافغانستان په معاصر تاريخ کې دری لسېزې د پام وړ ګڼلی کېږي، لومړۍ لسیزه دامیرشېر علیخان ددويمي پلا يا چا هی (۱۸۶۸ – ۱۸۷۸ ز) لسیزه ده،چي دنوي اومعاصرتمدن پیلا مه یې بللی شو، دويمه لسیزه دخپلواکۍ لسیزه ده،چي دافغانستان دخلکو په ملاتړعلیحضرت اما ن الله خان (۱۹۱۹ – ۱۹۲۹) دهېواد خپلواکي واخسته اودرېیمه لسیسزه ددموکراسۍ اواسا سي قا نون لسیزه ( ۱۹۶۳ ـ ۱۹۷۳ ز ) ده،چي په دې لسیزه کې دډلییزورسنیبوخپریدا، ددموکراسی پراختیا اوپر مختیا ، د سیا سي شعور وده اوپرمختګ اونوري هڅې د بېلګي په توګه يادولی سو .

په يا دو درې واړه لسیزو کې تا ریخ لیکني ته هم لاره اواره شوه،چي بنا يي يوشمېر لیکني اوځرګندوني دتاريخ لیکني له اوسني میتوديک اودبد کتیک سره لږو ډېر توپیر ولري ...

زما دیوهي له مخې دنوي معا صر میتود پر بنسټ تاريخ لیکنه باید تعليلي او تحليلي بنه ولري ، د تولنپوهني اوانسا ن پېژند نې (Anthropology)په ارونو او بنسټونوولاړه وي او په سنتي ځانګړ تیا وو کې دلیکوال ځیرکتیا ، دنثرښکلا، ادبي او هنري بنېګڼې، دلیکوال نا پیيلتوب ، ديوه تاريخي کلتوري (Culture,Area)چاپیریال انځورول ، دلیک لوست اخلا قي اړخ (دچا دشخصیت سپکا وی ونشي ) مو هم ګڼلی کېږي .

تاريخي لیکني با يد داسي نه وي، چي يوسیلاني راځي له ښکلا ډکي رنګیني ګوري اوخوند تري واخلي او له بد رنګیو سره يي کار ونه لري ...تاريخ باید ښېګڼي اوبد ګڼي دواړه وځاري ،نه داچي يوه بنه خپله کړي او له بلي سره کار ونه لري .

د تولنیزوعلومو د مسلکي اود اکاډیمیکي پوهي ښتن په دې پوهېږي، چي يوتاريخپوه باید دهر ډا کلي پير او زما ن له تولنپوهني ( اقتصادي،کلتوري،سیاسي اکر) ، لرغونپوهني )

(Archaeology،توکمپوهنی)، (Ethnology)او له نوروټولنیزومنا سباتوسره ځا ن په بشپړه توګه اشنا کړي .

دساري په توګه ، داولسمي پېړی تولنپوه کلوويروسCluveriusپه هر اړخيزه توګه دلرغوني جرمني اوايټاليا ښلا بيلي خوا وی داسي انځور کړي لکه دهمغی تولني دټاکلي مهال استوګن چي وي اويا يې را واخله دالکسا ندرون همبلولد ګټور Essay on new Spainاثر،چي دمکسيکو تاريخي جغرا فيه يي په بنه توګه څېړلی ده .

له دې لنډې يا دوني نه مي موخه داوه چي ما د اما ن الله خان دواک او ځواک په تړاودګنو کتا بونو يا نې اړولي دي ، د برېټش کتابتون دروازه مې هم ټکولې ده ، د بريتانيا او هند ګالرېيو،موزيمونواوننداړتونو ته مې هم سر وهلی دی ، ځا ن مې ستړی کړی اوبيا مې د ا ليکنه کړې ده... نه وايم چي کره او بشپړه به وي ، ځکه چي اماني نهضت د يوه ستر ښونځی بنه لري اوهغه دچا خبره که وغواړي چي يوه بې عيبه ليکنه وکړي نو ليکوال به نشي اوکه بې عيبه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيز بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دوست پیدا کړي نوبې دوسته به شی ، ولې بیا هم هر څوک کولی شي چې زما لیکنه تر خپلې کره کتنې لاندې راولي ،خوپه دې توپیر سره چې لاسوندونه اوما خذونه مستند وي ...!؟

زه په دې اند نه یم چې یوه انګریز لیکوال اویا یوه بل ختیځپوه چې څه لیکلي هغه به نوهیڅ تېر وتنه نه وي کړي اوداسې هم نه ده چې دهغوی څر ګندوني به بې ګټې وي ...که موږ له موضوع لرې نشوپه لسګونو داسې بېلګې موندلی شوچې په پرتلیزه توګه د دوی په لیکنو کې ښېګنې اوبدګنې شتون لري .

اما ن الله خا ن څرنګه وا ک ته ورسېد ؟

لومړی برخه ،

د پسرلي په میاشت کې امیر حبیب الله د جلال اباد نه (حوت میاشت) د لغمان ښکار ځای کله ګوش ته لاړ. دسلطنت چارې یې خپل دریم زوی عین الدوله امان الله ته سپارلې وې. نایب السطنه او معین السلطنه ورسره ملګري ول.

یو شمېر دکورنی غړي او درباریان په سرکې نصرالله خان، شهزاده عنایت الله خان او امان الله خان د امیر دناوړه کړو وړو نه ډېر خوا شیني ول. داچې امیر ونشو کولای د لومړی نړیوالي جګړې په درشل کې د انګرېزانو نه خپلواکي تر لاسه کړي. نو څکه د دربار (سری ګوند) د نصر الله خان په مشری په قران کریم لاس لیک وکړ چې په ژمنی تفریح ځای جلال اباد کې د امیر چاره وکړي.

کله چې د پېښې وخت راورسېد نایب السلطنه نصرالله خان له خپلې پرېکړې پر شاشو اوخپلو کسانو ته یې وویل چې نه غواړم د تخت لپاره خپل ورور وه وژنم.

ولې بیا هم امیر چې په خپله خیمه کې ویده وه او د څواکونو څلور حلقې تری تاو وې چې د هر تولي مشر شامحمود، شاه ولي (د نادر خان ورونه)، احمد علي، احمد شاه (د نادر خان د کاکا زامن) او له دې سربېره شاهي پوځ هم و.... محمد نادر ددې څواکونو اعلی قوماندان وو.

د شپې ناوخته (درې بجې شاوخوا) د حوت په شلمه سبایې ۲۰/۲۱ بجې شی د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو؟

د ده دوژلو په تړاو د ډېرو انګېرنو شتون چې ګڼې امیر «د سردار شاولیخان لخوا وژل شویدی .ولې بیا هم یقني ندی» ۱

امان الله خان چې د خپلې مور (علیا جضرت) له بابته، امیر حبیب الله خان نه خوا بدې وه د هغوی دری فعاله ډلو په لړ کې یو وه چې ګڼې د پلار په په وژلو کې ښکېل ګڼل کیږي.

داسې انګېرنه هم شته چې شجاع الدوله خان امان الله خان ته ډېر نږدې وه او د میر قاسم خان لغماني له انده.

»په کومه تومانچه چې امیر وژل شوی وه هغه علیاحضرتې ور کړې وه .څکه چې علیا حضرتې ده ته زوی ویلې وه.۲

په هر حال دا یوه سیاسي وژنه ګڼلی شو. په دې کې د هندي اسنادو په بنسټ د سردار یحی خان لمسی هم ښکېل برېښي یوتن افغان په رنګون کې د امیر زوی سردار محمدکبیر خان ته کیسه کړې وه « د قاتل پښه د خېمې په تناب کې بنده شوه و ولېداو دی بیا ونیول شو۳ د دې خبرې مانا داده (سردار یحی خان دری زامن لرل محمد اصف، محمد عظیم او محمد یوسف) چې ګڼې محمد نادرخان امیر ته نږدی یو پوځې مشر علي رضا چې قاتل یې لیدلي وه په څېره و واهه چې چیغې مه وواهه امیرصاحب له خوبه اوزې، چې په پای کې همدغه علي رضا په دار وه ځړول شو.

میر غلام محمد غبارچې په هرات کې له شجاع الدوله خان سره نږدې همکار وه د هغه له خولې کښلي دي چې امیر حبیب الله خان دده له خوا وژل شوی دی.

میرمحمد صدیق فرهنګ پرته له کوم ماخذ او لاسوند نه لیکلي دي چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

»زما یوه دوست دامان الله خان د واک په مهال له څرخي غلام نبي خان سره کار کاوه راته وویل:

امیرحبیب الله خان د امان الله خان په اشاره د شجاع الدوله خان له خوا وه وژل شو.۴

خو د امیر په وژنه کې کرنیل علیشا له محاکمې نه ورسته ووژل شو، چې دامیر د خېمې ساتونکی وه [1]

ددې ټولو څرګندونو سره سره امیر حبیب الله خان د نا څرګند سړي لخوا چې تر اوسه پورې دده قاتل نامعلوم دی ووژل شو .

سردار نصرالله خان له یوې لنډې وینا وروسته محمد نادرخان ته دنده وسپاره له چې د نظم د ټینګښت لپاره جلال ابادته ولاړشي او محمد ولي خان ته یې دنده و سپارله چې د امیر مړی ننګرهارته ولېږدوي.

پخوا تر دې چې امیر خاوروته و سپارل شی شا اغاسي علي احمد خان وویل: تر هغې چې امیر ونه ټاکل شي امیر خاوروته نه سپارل کېږي. نو د بیعت لاس یې وړاندې کړ. ولې معین السلطنه ټېل واهه بیا یې د بیعت لاس مخ ته کړ چې لومړي بیعت زما حق دې. د امیر حبیب الله خان له ښخېدو نه وروسته سردار نصرالله خان په جلال ابادکې او امان الله خان په کابل کې د سلطنت اعلان وکړ.

سردار نصرالله خان په دې ډاډه وه چې د ده دوه وربرونه (عنایت الله خان او حیات الله خان عضد الدوله) چې په کله ګوش کې هم ور سره ول دده تر شا ولاړ دي.

نو ځکه د دوی له بیعت نه وروسته په جلال اباد کې سلطنتي مېشت پوځې ځواک، هلته مېشتو درباریانو، ملکي مامورینو او مذهبي مشرانو ده ته بیعت وکړ چې مور د نقیب صاحب (سیدحسن ګیلاني)، میر صاحب جان د اسلام پور پاچا، د چارباغ حضرت صاحب(میرمعصوم) د ببلګي په توګه یادولي شو.

سردار نصرالله خان بیا د هند وای سرای ته د خپل ورور له وژلو خبر ورکړ چې د شپې (۳بجې) د یوه نامعلوم کس لخوا امیر شهید شو، او زه د ټولو لخوا د افغانستان پاچا و ټاکل شوم.

کله چې امان الله خان د خپل پلار له وژلو خبرشو ده په کابل کې د سلطنت اعلان و کړاو د فبروری په ۲۸ د ځانګړو مراسمو په ترځ کې، چې د حضرت فضل محمد(شمس المشایخ) اخوند زاده حمیدالله د تګاو ملا اونورد عید ګاه په جومات کې ورته پګړی په سر کړه.

امیر نصرالله خان د یوه رسمي مکتوب په ترځ کې له دې دمخه ورته د یوه لیک په ملتیا(شجاع الدوله په لاس) امیر امان الله خان ته د ټولو پېښو خبر ورکړی وه.

له دې سربېره یې یو پلاوی هم ور واستوه او کله چې شجاع الدوله خان وه ځنډېده نو بیا یې د یونس خان په نوم یو بل تن ولېږه چې هغه امیر امان الله خان ته بیعت وکړ.

شجاع الدوله خان او علام محمد خان چې کله بېرته جلال اباد ته و رسېدل نو امیر نصرالله خان ته یې د کابل د خلکو شور او زوږ د افغانستان د خپلواکۍ په تړاو د فبروری په ۲۴ په مراد خانی کې د امان الله خان وینا او د کابل مېشتو سردارانو او در باریانو د بیعت کیسه و کړه. نصرالله خان چې نه یې غوښتل د افغانانو وینه توییږ شي نو هغه هم پرته له کوم مخالفته بیعت وکړ. ولې استیوارت انګېري، نصرالله خان د جمعې په لمانځه کې موجود وه چې ملا په خطبه کې امان الله یادکړ.

که څه هم امیر نصرالله خان د مخه ناظم دوست محمد خان ته دنده سپارلې وه چې د پکتیا خلک دده په ملاتړ را پاڅوي.

محمد حسین خان مستوفي یې هم دېته هڅولی وه چې د تګاو او نجراو له لارې خلک د شمال لخوا دېته را وبولې چې دده دواک لپاره امان الله خان دېته اړ کړي چې امان الله خان ده ته ببیعت وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا راز د قطغن والي محمد صفرخان ناظر ملا عبد الرزاق اندړ او نور د ساري په توګه د يادولو وړدي، چې مذهبي او سيمه ييز واک يې د پام وړ وه.

نوموړي سردار ملا اندړ او دده زامنو پرمټ د ننګرهار په بېلابېلا سيموکي په تېره باجوړ، مومند واو د دنورو قبايلو سيمو کې هم دځان په ګټه هلې ځلې پيل کړې .

خو ريچارډ مکونا چې په دې اند وه چې د نصرالله خان دنه بري لامل داوه چې ملتپاله ځوانان، وسله وال ځواکونه او خلک د امير امان الله پلويان شول.

هغه مهال چې امير امان الله دده او د خپلو ورونو بيعت ليک د ميرزا محمدحسين مستوفي له خوا تر لاسه کړ، نو په ټول هېواد يې عڼ وکړ چې زه به تر هغې د پاچاهۍ تاج پر سر نه کړم چې افغانستان مې له بهرنۍ ښکېلاک نه ازاد کړی نه وي.

له بيعت نه وروسته د مارچ پر(۸) مې نېټې (۱۹۱۹زکال) نصرالله خان، سردارعنايت الله خان او حيات الله خان له جلال اباد نه د موټر په وسيله کابل ته ورسېدل. ولې برېتانوي استازی حافظ سيف الله خان په جلال آباد کې پاتې شو او دوی د امير له خوا تر نظر لاندې ول.ځکه چې امان الله خان په لمړۍ ورځ ژمنه کړې وه چې زه به د پلار قاتلان نيسم.

(نور بيا)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ